څوک چې هوړه يا پياز وخوري نو ځان دې له موږ څخه جلا کړي - يا يې وفرمايل چې: زمور له مسجد څخه دې ځان ګوښه کړي او په کور کې دې پاتې شي

له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «څوک چې هوړه يا پياز وخوري نو ځان دې له موږ څخه جلا کړي – يا يې وفرمايل چې: زمور له مسجد څخه دې ځان ګوښه کړي او په کور کې دې پاتې شي»، او پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته يو لوښی راوړل شو چې په هغه کې پياز يا بل ډول شنه سبزيجات و، نو هغه يې بوی حس کړ، نو پوښتنه يې وکړه او ورته وويل شو چې شنه بوی لرونکي سبزيجات پکې دي، نو ويې فرمايل چې د هغه ځينو ملګرو ته يې وړاندې کړئ چې له هغه سره (په سفر کې) وو، نو کله يې چې وليدل له خوړلو يې کرکه وکړه او ويې ويل: «كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لاَ تُنَاجِي». «وخورئ، ځکه زه له هغه چا سره مناجات کوم چې ته يې نه کوې». او د مسلم روايت دی له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ، الثُّومِ - وقَالَ مَرَّةً: مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ». «څوک چې له دې هوګې څخه خوراک وکړي، - او يو ځل يې وفرمايل: څوک چې پياز، هوړه او يا ګندنه وخوري، نو زمور جومات ته دې نه رانږدې کيږي، ځکه چې ملائکې د هغه څه له امله تکليفيږي چې بني آدم ترې تکليفيږي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هر هغه څوک چې هوړه او يا پياز وخوري جومات ته له تلو څخه منع کړی دی، تر څو خپل هغه وروڼه په بدبويې سره ونه ازاروي چې جومات ته د جماعت لپاره راغلي دي، جومات د تللو په اړه دا ممانعت تنزيهي دی، نه دا چې دا خواړه ناروا دي، ځکه چې دا مباح خوراکونه دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يوه کتوې راوړل شوه چې سبزيجات پکې وو، نو کله يې چې بوی کړل او د هغه څه په اړه خبر ورکړ شو چې په کتوې کې دي نو له خوړلو يې انکار وکړ او خپلو نورو ملګرو ته يې د خوړلو لپاره وړاندې کړل، نو هغه هم د ده پسې د اقتدا له مخې له خوړلو کرکه وکړه، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولېده ويې فرمايل: وخوره؛ ځکه چې زه له ملايکو سره په وحي ملاقات کوم. او رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې ملايکې د بد بوی له امله داسې ازاريږي لکه څنګه چې بنی آدم ازاريږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4850